مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۸/۲۰

# ایوب تد بیر

## (د استقلال ورځ)

بیـا د ایوب پـر توره ګرد پـریوت ځلا غـواړي
د مـلالـۍ د تـنـدي تیـک نــوې رڼـــا غـواړي

خوار خلک رنځ ګالي جفـا ده په هر لوري خوره
بـل څـه شی نه غـواړي، بیوزلي بس وفا غـواړي

اهـریمن راغی جام په لاس د وینو غوړپ ته تیار
رګـو کـې وینـه وچه شـوې ده سـزا غــواړي

افغان زلمي تـر چا جاریږي خـدایـه څه وشول دا
هـغـه چې ګور ته دي تګونکي بیـا بــقا غـواړي

دغـه تـوپـک بم راکتـونـه بـه تـر څـو لـوبـوو
لوی ښامـاران بیـا د عیسی هـغـه امسا غـــواړي

ښامـاران بیـا ژامي چیچي د مـلالـۍ خـورکی تـه
د اکبـر زړه، ایوب تـدبیر یو ځـلي بیـا غـواړي

دوی ته یو ډال دعقیدې ښه لوی په لاس ورغـــلی
خـو دوی کـافـر دي، یـوهــادي اوانبیـا غـواړي

هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ